safar

# خدای پلار

## زمونږ اسماني پلار

### د پیل ټکی

تاسو په تېرو ورځو کې د خپل هویت په اړه د خدای د زوی په توګه ولوستل، دعا مو کړې او فکر مو کړی دی. دا موضوع د خدای سره ستاسو په اړیکه کې څنګه مرسته کړې ده؟

### بحث او خبرې

په دې مرحله کې به مونږ خدای ته د خپل پلار په توګه وګورو. ځینې کسان د خپل ځمکني پلارسره ښه تجربه لري، خو ځینې نور بده تجربه لري.
په دې مرحله کې به دا موضوع وڅېړو چې اسماني پلار څنګه تل زمونږ سره ښه او مهربانه دی.

دا ریښتینې کیسه ولولئ. د یو ښه پلار شتون د اولادونو دپاره څه ګټه لري؟

یو شپږ کلن هلک چې د خپل پلار سره ښه اړیکه لرله او هغه په خپل پلار ډېر ګران ؤ. هغوی په یو جګړه ځپلي هېواد کې اوسېدل.
یوه ورځ پلار او زوی دباندې تللي وو. دوی ته نږدې په کوڅه کې له درنو ډزو غږونو سره جګړه پیل شوه. پلار خپل زوی له لاسه ونیوه او کور خوا ته روان شول. پلار هڅه کوله چې خپله ارامي وساتي، تر څو زوی یې ونه وېرېږي.
هغوی چې کور خوا ته تلل، د جګړې غږ نورهم لوړیده. پلار د خپل ځانه سره فکر وکړ چې زوی به یې د ډزو د اوازونو نه ډېر وېرېدلی وي، خو کله چې یې هغه ته وکتل، ویې لیدل چې زوی یې خوشحاله ؤ او خندل یې. کورته چې ورسېدل، د خپل زوی څخه یې پوښتنه وکړه:
"کله چې مونږ په کوڅه کې وو، ته د ډزو له اوازونو نه ونه وېرېدې؟"
زوی یې ځواب ورکړ: "نه"
پلار په حیرانتیا سره پوښتنه وکړه: "زویه، څه وشول چې ونه وېریدې؟"
زوی یې ځواب ورکړ: "بابا زه ونه وېرېدم، ځکه چې تا زما لاس نیولی ؤ."
*لکه څنګه چې په دې کیسه کې ګورو. هغه وخت چې اولادونه ښه پلار ولري، حتی د ژوند د طوفانونو په څپو کې به هم د هوسایي احساس کوي.*

### اصلي مفکوره

**عیسی مونږ ته ښیي چې خدای پلار نېک دی او کولای شو تل په هغه باور ولرو.**
په انجیلونو کې، عیسی په دوامداره توګه خدای ته د پلار په توګه اشاره کوي (د ۱۵۰ ځلې نه زیات).
عیسی په واضح ډول ثینګار کوي، چې خدای پلار نېک، کامل او د مینې څخه ډک دی، چې مونږ کولای شو تل په هغه باور ولرو.
بې له شکه هغه تجربه چې مونږ یې په شخصي توګه د خپل ځمکني پلار سره لرو، دا کولای شي چې زمونږ له اسماني پلار سره زمونږ په اړیکو اغېزه وکړي. زمونږ څخه ځینې لکه د هغې کیسې هلک چې ښه پلار یې درلود، د خدای په حضور کې هم د باور او هم د هوسایینې احساس کوو.
خو ځینو بیا د خپل ځمکني پلار سره دومره ښه اړیکه نه درلوده او حتی د هغوی له خوا ازار او ځورول شوي هم دي، نو دا د دې لامل شوی دی، چې حتی زمونږ دپاره ستونزمنه خبره ده چې خدای ته "پلار" ووایو، یا د هغه په حضور کې د هوسایینې احساس وکړو.

خو د ځمکني پلار څخه زمونږ تجربه چې هر ډول وي، مونږ کولای شو په خوشحالي د خپل اسماني او کامل پلار سره د نږدې اړیکو څخه خوند واخلو او د هغه د حضور له برکته وده وکړو.

### په کلام باندې تعمق او غور

safar

ځومره چې مونږ سپيڅلی کتاب لولو، هغومره زمونږ پيژندنه د خدای پلار په هکله ډيريږي.

لانديني اياتونه ولولئ، د خدای پلار صفتونه او هغه لارې بيان کړئ، چې په هغې باندې کولای شو د هغه حضور ته لاړ شو.

1. متی ۷: ۹-۱۱
2. لوقا ۱۵: ۱۱-۲۴

## همدا اوس په ګډه تمرين وکړئ.

- د هغه څه نه چې تاسو نن د خدای پلار په هکله زده کړل، د ټولو نه زيات کوم يو ستاسو د نن ورځې ژوند دپاره خورا عملي يا ګټور دی؟
- همدا اوس د کومو شرايطو د تيريدو په حال کې يئ، چې اړتيا لرئ د پلار لاس ټينګ ونيسئ؟
- په دې هفته کې څنګه کولای شئ چې خپل لاس د اسماني پلار په لاس کيږدئ؟

کولای شئ دا ډول دعا وکړئ:
" پلارجانه، اعلانوم چې ته نيک پلار يې او د دې حقيقت په خاطر خوشحاله يم. له تا شکرګذار يم چې زه پر تا ګران يم، او تل دې زما ساتنه کړې ده. شکرکوم چې له ما نه غواړي چې خپلې انديښنې تاته ووايم. نو خپل حال ستا حضور ته وايم، په ياد لرم چې ته زما د ژوند په طوفانونو کې حضور لرې او هيڅکله به ما يوازې پريښږدې. له تاغواړم چې ماته لارښونه وکړې، زه ډير خوشحاله يم چې ستا اولاد يم، غواړم چې له تا سره نږدې پاتې شم. "

## هره ورځ خپل تمرين تکرار کړئ.

- د لوقا انجيل او زبورد لوستلو په دوام، هره ورځ يو د دې لاندې ايتونو څخه غوره کړئ او ويې لولئ:
  - دوم قرنتيان ۱: ۳-۴
  - ارميا ۲۹: ۱۱
  - اول يوحنا ۱: ۹
  - اشعيا ۴۱: ۱۰
- د پورتنيو اياتونو د لوستلو په وخت کې دا پوښتنې له ځانه وپوښتئ.
  - دا ايتونه د خدای پلار په اړه ماته څه وايي؟
  - د دې ايتونو له مخې څنګه کولای شو د خدای حضور ته ورشو؟
  - څنګه بايد نن د دې حقيقت په اساس ژوند وکړو؟
- وروسته يو ايت غوره کړئ، او هغه د کاغذ پر مخ وليکئ او هغه په يو ځای کې کيږدئ چې تل مو د سترګو په وړاندې وي.

هر ځل چې دا ايت ګورئ، هغه په لوړ اواز ولولئ او د پلار نه وغواړئ چې هغه خپل ځان ډير ژور تاسو ته ښکاره کړي.

- هره ورځ يو څه وخت غوره کړئ او هر هغه څه چې تاسو ورسره مخامخ يې، پخپله دعا کې د پلار لاسو ته وسپارئ. کولای شئ پورتنئ دعا وکاروئ.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved